هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۲۹۳) ماه رجب المرجب ۱٤٤٦ هـ ق. مطابق ماه جدی ۱٤۰۳ هـ ش.

**د علم په زده کړې سره خپله روښانه راتلونکې تضمین کړئ.**

## د پوهنې وزارت سرپرست د میدان وردګو ولایت د علماءکرامو د آزموینې له بهیرڅخه لیدنه وکړه




د پوهنې وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا چې د ثانویه او مافوق ثانویه دورو د آزموینو تنظیم، ترتیب او ارزونې په موخه میدان وردګو ولایت ته سفر کړی وو، د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو او علماءکرامو په ملتیا یې د مدارسو د طالب العلمانو د آزموینې له بهیر څخه لیدنه وکړه.

د پوهنې وزارت محترم سرپرست د یادو آزموینو څخه د کتنې په بهیر کې وویل: الله تعالی هره ورځ موږ او تاسو آزمويي، هر څوک چې په دې آزموینه کې بریالی شي، د الله تعالی د رحمت تر چتر لاندې راځي او څوک چې بې نتیجې شي، هغو ته به یې بدیل ور کړل شي.

نوموړي زیاته کړه: دغه آزموینه ستاسو لپاره د نظام د عالي رهبرۍ له لوري لوی شفقت دی او تاسو باید د دغه ستر نعمت شکر ادا کړئ.

په ورته مهال، د پوهنې وزارت نورو محترمو معینانو او یو شمېر مرکزي رئیسانو هم د هېواد په ولایتونو کې د ثانویه او مافوق ثانویه آزموینو له بهیر څخه لیدنه وکړه.

د پوهنې وزارت مشرتابه پلاویو د دغو آزموینو د روڼتیا د تامین په موخه مسئولینو او لوړ پوړو څارونکو ته لارښوونې وکړې او له ګډون والو یې وغوښتل چې د آزموینې نظم او ډسپلین په پام کې ونیسي.

د یادونې وړ ده، چې د یادو آزموینو لپاره ۳۲ زره طالب‌العلمانو نوم لیکنه کړې وه.

## د اسلامي زده‌کړو محترم معین د ختیځ زون ولایتونو ته سفر وکړ

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معین محترم الحاج مولوي کرامت الله «آخندزاده» د یو لړ رسمي چارو ترسره کولو او د مدارسو د ثانویه او مافوق ثانویه دورو د طالب العلمانو د آزموینو بهیر څارنې په موخه ختیځ زون ولایتونو (ننګرهار، کونړ او لغمان) ته سفر وکړ.

په دغه سفر کې د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معین د یادو ولایتونو د پوهنې له رئیسانو او آمرینو سره وکتل.

همدارنګه نوموړي د یادو ولایتونو د پوهنې ریاستونو د مسئولینو په ملتیا د دیني مدارسو د طلابو د ثانویه او مافوق ثانویه دورو د آزموینو اخیستلو ځای ته ولاړ او د یادو آزموینو له بهیر څخه یې له نږدې څارنه وکړه.

د پوهنې وزارت معین په دې کتنه کې له مسئولینو وغوښتل، چې د آزموینې روڼتیا، عدالت، نظم او ډسپلین ته پاملرنه وکړي او د یاد وزارت په استازیتوب یې د هېواد بچیانو لپاره د متوازنو ښوونیزو او روزنیزو آسانتیاوو د برابرولو ډاډ ورکړ.

## دیدار معین محترم منابع و اداره با آمرین معارف ولسوالی های ولایت کابل

محترم الحاج مولوی صبغت الله وصیل معین منابع و اداره در دیدار با آمرین معارف ولسوالی های چهارده گانه ولایت کابل در رابطه به موضوعات مرتبط به حوزه کاری خویش اعم از تدریسی، اداری، مالی و تشکیلاتی با هم بحث های مفصل نمودند.

علاوتاً در این دیدار محترم مفتی شفیع الله منصور رئیس عمومی اداری، برخی مسئولین و کارشناسان بخش های مربوطه این وزارت نیز حاضر بودند.

ابتداء آمرین معارف ولسوالی ها در مورد پیشرفت ها و چالش ها و سایر فعالیت های ریاست های شان به رهبری وزارت معارف گزارش مختصر ارائه کردند.

سپس معین محترم منابع و اداره وزارت معارف ضمن خوش آمدید آمرین و مسئولین، از زحمات و تلاش های آن‌ها ابراز قدردانی کرد و با اشاره به تسریع به موقع تطبیق پلان ها و برنامه های ...

ص ۲

## د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین محترم معین غزني ته سفر وکړ



د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق د یو پلاوي په مشرۍ غزني ولایت ته د رسمي سفر په ترڅ کې، د یاد ولایت له پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي میر نصیر احمد حسیني او مسئولینو سره د لیدنې پر مهال، د دیني مدارسو د ثانویه او مافوق ثانویه دورو د آزموینو له بهیر څخه لیدنه وکړه.

نوموړي د غزني ولایت پوهنې ریاست کړنو څخه د ستاینې ترڅنګ له مسئولینو وغوښتل، چې په یاد ولایت کې د پوهنې د کمي او کیفي پراختیا په برخه کې لا زیاتې هڅې وکړي.

دغه راز د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین محترم معین په ښوونیزو آسانتیاوو کې د روڼتیا په موخه د یوې ځانګړې کمېټې له جوړولو خبر ورکړ.

له بلې خوا د غزني د پوهنې ریاست مسئولینو هم یاد ولایت ته د کیفیت تضمین د معین سفر یو نېک اقدام وباله او په دغه ولایت کې یې د پوهنې وزارت د پلانونو او پروګرامونو په پلي کولو کې د ملاتړ ډاډ ورکړ.

## بامیان ولایت کې د سلګونو تنو مجاهدینو څخه د سویې د تثبیت آزموینه واخیستل شوه




د پوهنې وزارت د ځانګړي طرحه شوي پلان له مخې، د هېوادوالو لپاره د لا ډېرو ښوونیزو آسانتیاوو برابرولو په موخه، بامیان ولایت کې له ۹۸۰ تنو مجاهدینو څخه د سویې د تثبیت په موخه آزموینه واخیستل شوه.

د بامیان ولایت والي محترم الحاج مولوي عبدالله سرحدي، پوهنې رئیس محترم قاري عنایت الله سهار، مسئولینو او یو شمېر علماءکرامو د یادې آزموینې له بهیر څخه له نږدې څارنه وکړه.

یادو مسئولینو په خپلو خبرو کې د پوهنې وزارت د پروګرامونو او پلانونو یادونه وکړه او د بامیانو ولایت د رهبرۍ له لورې یې د تطبیق په برخه کې خلکو ته د ملاتړ ډاډ ورکړ.

مسئولینو د یاد ولایت له اوسېدونکو وغوښتل چې د هېواد پوهنیز نظام په لاپیاوړتیا کې له پوهنې وزارت سره خپلې همکارۍ جاري وساتي.

دغه راز د بامیان ولایت د پوهنې رئیس هم د آزموینې د روڼتیا په اړه ګډون والو ته ډاډ ورکړ او ویې ویل، هغه کسان چې په دې آزموینه کې معیاري نمرې ترلاسه کړي، د دولسم ټولګي د فراغت سندونه به ورکړل شي.

## اعمار صنوف جدید درسی یک باب مکتب به هزینه ۱,٤ میلیون افغانی در شهر کابل

پنج باب صنف درسی جدید برای مکتب ابتدائیه شمس تبریزی در مربوطات حوزه دوازدهم تعلیمی شهر کابل به هزینه یک میلیون و ۴۵۲ هزار افغانی به همکاری مالی یک نهاد حامی معارف اعمار گردیده که با حضور محترم قاری عبدالباسط حقانی رئیس و مسئولین معارف شهر کابل، آمر حوزه ۱۲ تعلیمی، علماء کرام و مسئولین مکتب مذکور به بهره برداری سپرده شد.

در محفل که به همین مناسبت برگزار شده بود رئیس معارف شهر کابل گفت: در جریان دو دهه گذشته نظام معارف ...

ص ۲

## در این شماره

صفحه ۲ — ۱۰ مورد از ضروری‌ترین مهارت های زندگی

صفحه ۳ — نظارت از وضعیت امتحانات طالب العلمان مدارس دارالهجرت در خیبر پښتونخوا

مخ ٤ — د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د کړنو راپور

## بحث پیرامون گزارش تشکیلاتی ریاست معارف شهر کابل

کمیته هماهنگی بست های خالی وزارت معارف در نشستی که به سرپرستی محترم مفتی عبدالحلیم حلیمی رئیس کمیته هماهنگی و تثبیت بست های خالی این وزارت دایر شده بود در محوریت گزارش توحیدی ریاست معارف و حوزه های تعلیمی شهر کابل که در رابطه به تشکیلات مدارس و مکاتب شهر کابل ترتیب شده بود، بحث های مفصل نمودند.

اعضای کمیته در حالی بحث روی گزارش یاد شده را آغاز کردند که محترم قاری عبدالباسط حقانی رئیس معارف، مسئولین و آمرین حوزه های تعلیمی شهر کابل نیز حاضر بودند.

اعضای این نشست در پیوند به بست های خالی، کمبود معلمین، بست های اضافی قابل انتقال، ادغام برخی شعبات اضافی، مشکلات تشکیلاتی مدارس و مکاتب شهر کابل و سایر موضوعات مورد علاقه بحث و باهم تبادل نظر نمودند.

در فرجام بعد از بحث های کارشناسانه و همه جانبه، گزارش متذکره تکمیل و قرار شد به کمیته عمومی تشکیلات این وزارت محول گرد.

سرلیکنه

# دهېواد پرمختګ د ځوانانو فعاله ونډې ته اړتیا لري

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ والصلوةُ وَالسَّلَامُ عَلَی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ وَ عَلَی اٰلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِینَ.

په نني عصر کې چې د دنیا پرمختللي هېوادونه فضا او د کائیناتو سیارو او سپوږمیو ته د رسېدلو په لور ګامونه اوچتوی او د معلوماتی تکنالوژۍ په مټ د کهکشان د بېلابېلو برخو او د ستورو احوال د ځمکې د کرې تر انسانانو رسوي دا هر څه د علم له برکته دي.

پر موږ الله جل جلاله تر ټولو زیاته مهرباني کړې چې د ځمکې لاندې یې موږ ته کافي زېرمې لکه تیل، ګاز، د ډبرو سکاره، لعل، لاجورد، زمرد، سره زر، مس، اوسپنه، یورانیم، لیتیم او د ځمکې د پاسه د برېښنا د تولید لپاره روان او څپانده سیندونه او ښکلې هوا او له کمیابه بوټو ډک غرونه راکړي. دا هغه څه دي چې د نړۍ خلک او زبر ځواکونه ورپسې سرګردانه او لالهانده ګرځي او د لاسته راوړلو لپاره یې هر ډول هڅه کوي.

ګرانه زده کوونکیه، محصله او د هېواد زلمیه! د هېواد پرمختګ او سوکالي ستاسو په زیار او کوښښ پورې تړلې ده، تاسو چې د هېواد د راتلونکي معماران یاست ښایي چې د علم او پوهې په تر لاسه کولو کې شپه او ورځ نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړئ او د علم او پوهې په مټ ګران هېواد افغانستان د پرمخ تللو هېوادونو په کتار کې ودروئ. لله الحمد اوس چې په هېواد کې بشپړه آزادي تر لاسه شوې، اسلامي نظام حاکم، زړه سوانده او عادل علماء کرام مو حاکمان دي چې د افغانستان د پرمختګ او سوکالۍ لپاره شپه او ورځ هلې ځلې کوي، همدایې وخت دی چې په ټول توان سره لدې زرین فرصت څخه پوره ګټه تر لاسه کړو او د خپل هېواد د آبادۍ لپاره مدرسو او ښوونځیو ته مخه کړو.

ګرانه زلمیه! د هېواد د آبادۍ لپاره په هره برخه کې فعاله ونډه واخله، هېواد ستا هڅو او کوښښ ته اړتیا لري، خپل برخلیک په خپله وټاکه، هېڅوک له تا پرته پر تا ډېر مهربانه نه دي، د خپل هېواد د آبادولو لپاره، خپلو هېوادوالو ته لاس ورکړه له ټولو سره یو لاس او یو موټی اوسېږه، د نفاق اور ته لمن مه وهه په نفاق کې ګټه نشته.

ګرانه زده کوونکیه! د هېواد راتلونکی په تا پورې اړه لري وخت سره زر دي له وخت څخه د ځان، دین او هېواد د پرمختګ لپاره پوره ګټه واخله.

له ناخوالو او بدمرغیو څخه د خلاصون لار یوازې او یوازې د علم او پوهې زده کول دي، زموږ غیرتي پلرونو او نیکونو د ننګ او توري ډګرونه تل په مېړانه ګټلي او موږ ته یې ستر ویاړ په میراث پرېښې دی چې د دغه میراث ساتل، پالل او ښېرازه کول ستا کار دی، ځکه چې ستا عزت او سرلوړي په همدې پورې تړلې ده.

نو ګرانه زده کونکیه او ځوانه! د افغانستان اسلامي امارت په تېره د پوهنې وزارت په ټول توان ستا تر شا ولاړ دی، د امکان تر حده ستا د ښې ښوونې او روزنې لپاره هڅه کوي او په هر ډول شرایطو کې تاسو ته د زده کړې زمینه برابروي نو تاسو ته هم ښایي چې لدې فرصت څخه ښه ګټه پورته کړی او د خپل هېواد د آبادۍ او ښېرازۍ لپاره علم او پوهې لاسته راوړلو ته مو لومړیتوب ورکړی او هېواد مو د نړۍ د پرمخ تللو هېوادونو په کتار کې ودروئ.

# شخصیت جوړونه!

لیکوال: محمد حامد وطن

د یو ځوان په صفت باید تاسو متدین، تاند او هڅاند شخصیت لرونکي واوسئ، دا ځکه تاسو باید خپل شخصیت داسې جوړ کړئ تر څو نور وهڅوئ! او د هڅونې دا لړۍ د یو بریالۍ ټولنې جوړېدو جوګه کېدای شي.

که غواړئ! په ټولنه کې د ښه شخصیت لرونکي واوسئ نو ځنې دا لاندې کړنې حتماً ترسره کړئ.

**۱: د مثبت فکر او مثبتې مشورې ښبتنان واوسئ!**

کله چې تاسو هرڅه ته د مثبت اړخ څخه ګورئ او هر چاته مثبته مشوره ورکوئ؛ خلک ستاسو اړوند د لوړ باور لرونکي جوړېږي. که منفي مشوره ورکوئ؛ زیانونه یې ورته بیان کړئ، خو وروسته بیا هم ورته وواياست چې ته یې هم په خپل فکر ژور وځېړه داده اوسی تاسو به دوی ته په مثبت ډول منفي مشوره ورکړې وي.

دا هغه عادت دی چې ستاسو ملګري او ټول هغوی چې تاسو پېژني ستاسو سره د خپلو مشکلاتو شریکولو ته هڅوي او ستاسو قدر او عزت د دوی په ورانـدي لوړوي.

**۲: پاکوالي ته پوره توجه وکړئ!**

په ظاهري او باطني ډول مو ځان په پوره ډول پاک وساتئ؛ په خاص ډول جامې. په زړو جامو مه شرمېږئ. زړې جامې واغونده مګر پاکې یې وساتئ.

**۳: صورت او سیرت په سنت برابر کړئ.**

لنګوټه او خولۍ په سر کړئ او عطرو استعمال کړئ. ډېر مهم څه ستاسو د بدن خوشبويي ده. ستاسو د یو غوره او با مسئولیته شخصیت استازیتوب کوي.

**٤: خبري لږ وکړئ؛** داسې خبري وکړی چې نور ستاسو د خبرو اورېدو لېوال واوسي! په هغه څه وغږېږئ، چې د خلکو او ټولنې اړتیا ده.

**٥: الله جل جلاله ته ځان تسلیم کړئ؛** تر څو ټوله نړۍ ستاسو تابع شي. تل د الله جل جلاله ذکر او د قرآن کریم تلاوت حتماً وکړئ.

**٦: د غلطیو اورېدلو ته مو لېوال واوسئ.**

د ټولو څخه غوښتنه وکړئ؛ تر څو ستاسو ټولې غلطۍ یا نیمګړتیاوې درته په ګوته کړي.

**۷: خپل ځان نورو ته ښه مه معرفي کوئ.**

پرېږدۍ چې ستاسو نېک اعمال ستاسو د ښه معرفت جوګه شي.

**۸: د غوره ویناوو زده کړو لپاره زیاته مطالعه وکړئ،** او د نورو خبرو او ویناوو ته غوږ ونیسئ.

# ۱۰ مورد از ضروری‌ترین مهارت های زندگی

**۱- خود آگاهی**

اگر بتوانید نقاط قوت و ضعف خود را درک کنید و بین آنها تفاوت قائل شوید، شما فردی خودآگاه هستید. این توانایی به شما کمک می‌کند تا انتخاب کنید، اقداماتی انجام دهید و تصمیماتی بگیرید که با توانایی‌های شما سازگار باشد. نمونه‌هایی از خود آگاهی عبارت‌اند از:

- توانایی درک اینکه چه کاری می‌توانید یا نمی‌توانید انجام دهید؛
- شناخت استعدادها و آگاهی از مجموعه مهارت‌های خود؛
- توانایی فرق کردن بین جنبه‌های ضعیف و قوی توانایی‌ها و رفتارتان.

**۲- عزت نفس**

عزت نفس به احساسی اشاره دارد که درمورد خود و نظر دیگران دربارهٔ خودتان دارید. افراد با عزت نفس سالم به خود و توانایی‌های شان اعتماد دارند. آن‌ها از نظرات دیگران دربارهٔ خود نمی‌ترسند. نمونه‌هایی از عزت نفس سالم و مثبت عبارت‌اند از:

- ایجاد تصویر یا تلقی مثبت از خود؛
- احترام گذاشتن به خود و انتخاب‌ها یا تصمیمات‌تان؛
- تحت‌تأثیر قرار نگرفتن از نظرات دیگران درباره شما.

**۳- روابط بین فردی**

انسان‌ها ذاتاً موجوداتی اجتماعی هستند و روابط دوستانه باعث افزایش سلامت اجتماعی و روانی آن ها می‌شود. مهارت های بین فردی به توانایی تعامل سازنده با دیگران و همزیستی مسالمت‌آمیز اشاره دارد. روابط بین‌فردی شامل مجموعه‌یی از مهارت‌های درهم‌تنیده است، مانند: توانایی ایجاد مکالمات در موقعیت‌های ناآشنا یا جدید.

توانایی ایجاد احساس امنیت برای دیگران در حضور شما (مثل زمانی که در یک مصاحبهٔ شغلی هستید و در آن با طرف مقابل ارتباط می‌گیرید)؛

توانایی مدیریت تعارض و حل مسائل (مثلاً مخالفت محترمانه با مدیر و ارائهٔ راه‌حلی متفاوت).

**۴- قاطعیت**

کوتاه آمدن دربارهٔ یک مسئله بدون آسیب رساندن به احساسات فردی دیگران آسان نیست. قاطعیت به شما می‌آموزد چگونه با کمک آن به بیان آزادانهٔ نظر خود بدون آسیب رساندن به احساسات دیگران، تعادل را به نحو ظریفی حفظ کنید.

در محل کار، تعیین حد و مرز و نه گفتن به افراد بسیار دشوار است. با قاطع بودن، می‌توانید نیازها و انتظارات خود را به شیوه‌یی محترمانه بیان کنید.

**۵- ارتباط مؤثر**

یکی از حیاتی‌ترین مهارت های زندگی، ارتباط مؤثر می باشد که شامل ارتباط کلامی و غیر کلامی است. این مهارت فراتر از تبادل سادهٔ کلمات یا حرکات است و شامل توانایی ابراز شفاف خود می‌شود. نمونه‌هایی از ارتباطات مؤثر عبارت‌اند از:

ارائه‌ی ماهرانه‌ی ایده‌ها و متقاعد کردن دیگران درمورد آن‌ها؛

استفاده از تُن صدای درست، زبان و نشانه‌های غیرکلامی مناسب هنگام ارائه‌ی اطلاعات یا برقراری تعامل با افراد؛

توجه کردن به احساسات خود و دیگران و ایجاد احساس امنیت برای دیگران در حضور شما.

**۶- تفکر انتقادی**

مهارت تفکر انتقادی به توانایی نقادانه فکر کردن اشاره دارد، یعنی توانایی تفکیک واقعیت‌ها از نظرات. این مهارت روش‌های بیان و ابراز افکار و نظریه‌های ما را بهبود می‌بخشد.

انعطاف‌پذیری و صراحت در فرایند تفکر، فضایی برای تفکر نوآورانه ایجاد می کند.

- تفکر انتقادی شامل توانایی‌های متعددی است، از جمله:
- شناسایی و برنامه‌ریزی پیشاپیش برای خطرات احتمالی؛
- تمایز قائل شدن بین نظرات و وا قعیت ها ؛
- به چالش کشیدن جهت گیری‌های شخصی و بررسی موقعیت‌ها با رویکردی بی‌طرفانه.

**۷- تصمیم‌گیری**

به توانایی استفاده از اطلاعات موجود برای ارزیابی موقعیت و انتخاب آگاهانه، تصمیم گیری گفته می‌شود. این مهارت به رشد مهارت‌های حل‌مسئله کمک می‌کند و دارا بودن آن یک ویژگی بسیار ارزشمند در محل کار است. نمونه‌هایی از مهارت تصمیم‌گیری عبارت‌اند از:

- تحت‌تأثیر عوامل بیرونی قرار نگرفتن در هنگام تصمیم‌گیری.
- قاطع بودن درمورد نیازها، انتظارات و اهداف تعیین شدهٔ خود.
- توانایی تفکیک احساسات خود و پرداختن به تفکر منطقی.

**۸- مدیریت زمان**

مدیریت زمان به شما کمک می‌کند تا به وظیفه‌تان خوب تر عمل کنید، فعالیت‌های خود را سازماندهی کرده و تحت فشار به‌خوبی کار کنید. همچنین اضطراب را کاهش داده و شما را قادر می‌سازد اهداف‌تان را با موفقیت تعیین کنید. برای سازمان‌دهی و عمل به اولویت‌های خود، باید زمان خود را هوشمندانه مدیریت کنید. مهارت‌های مربوط به مدیریت زمان چندین مزیت دارند، از جمله:

- دانستن اینکه چگونه از وقت خود پربارتر استفاده کنید و منظم بمانید.
- تعیین اولویت‌ها و نه گفتن به چیزهایی که فوری نیستند.
- احساس اضطراب کمتر و داشتن انرژی برای انجام موفقیت‌آمیز کارها.

**۹- مذاکره**

مردم اغلب به مذاکره به‌عنوان یک بازی بردوباخت نگاه می‌کنند، در حالی که در واقعیت، مذاکره یک موفقیت است. توانایی مصالحه یا توافق در بحث به‌نحوی که به نفع همه باشد، سنگ بنای مذاکرهٔ موفق است. این توانایی یکی از مهم‌ترین مهارت‌های بین‌فردی است که به حل منازعات و مشکلات کمک می‌کند.

**۱۰- همدلی**

هوش عاطفی و همدلی بالا، شما را قادر می‌سازد دیگرانی را که ممکن است بسیار متفاوت از شما باشند، بپذیرید. شفقت نشان دهید، یاری کنید و به موقعیت‌های مختلف پاسخ مناسبی دهید. همدلی کردن کیفیت روابط اجتماعی را بهبود می‌بخشد، و اعتماد و احترام را در بین شما و دیگران ترویج می دهد.

**دیدار معین محترم منابع و اداره ...**

وزارت معارف در ولسوالی ها بر هماهنگی بیشتر و تحکیم روابط در انجام امور تعلیمی، اداری و مالی تاکید نموده، توجه حاضرین را به حفظ ملکیت های معارف، نگهداشت از تعمیرات نهاد های اداری، تدریسی ودیپو ها و جلوگیری از حیف و میل بیت المال معطوف نمود.

نامبرده در پیوند به موضوع تشکیلاتی و چالش های تقرر معلمین مسلکی در شماری از مکاتب گفت: دیده شده در برخی مکاتب تعداد معلمین بیشتر از صنوف درسی بوده در حالی که در بعضی از مکاتب حتی برای یک تعداد صنوف درسی معلم موجود نیست که ایجاب می نماید تا جهت رفع این نقیصه، تقسیم بندی تشکیلاتی به صورت دقیق و متوازن صورت گیرد.

جلب کمک ها و حمایت های مالی و معنوی سرمایه داران، متنفذین و مردم از سفارشات دیگری بود که از سوی معین منابع و اداره وزارت معارف به مسئولین معارف ولسوالی های ولایت کابل ارائه شد.

در اخیر آمرین معارف ولسوالی های ولایت کابل نیز ضمن سپاسگزاری از رهبری وزارت معارف که علی‌الرغم تمام مصروفیت های وظیفوی خویش آنان را به حضور پذیرفت، یک سلسله پیشنهادات، نظریات و مشکلات فرا راه فعالیت های شان را مطرح کردند که از سوی معین محترم منابع و اداره وزارت معارف در زمینه حل مشکلات و تطبیق پیشنهادات آن ها وعده همکاری سپرده شد.

**اعمار صنوف جدید درسی یک باب ...**

به اندازه کافی به مشکلات روبرو بوده، اکنون مسئولیت خود می دانیم تا با ارائه خدمات هرچه بیشتر در این بخش باعث رشد معارف گردیده و استعداد های اولاد وطن را شکوفا سازیم.

در این حال برخی از باشنده گان ناحیه دوازدهم نیز در سخنان شان از ساخت صنوف جدید درسی در مکتب یاد شده اظهار خورسندی نموده و از برنامه های معارف برای بهبود هر چه بیشتر نظام آموزشی حمایت خود را اعلام کردند.

**د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا...**

پروګرامونو له تنظیم څخه خوښي څرګنده کړه او ویې ویل، د یادو ورکشاپونو اصلي موخه د ښوونکو د مسلکي وړتیاوو لوړول او هغه څه چې دوی زده کړي، په ښوونځیو کې پلي کول دي.

دغه راز هغوی ټینګار وکړ، کوم مهارتونه چې په ورکشاپ کې ګډون والو ته ور زده کېږي، باید په عملي ساحه کې ترې بشپړه ګټه پورته شي.

په همدې حال کې د سرپل ولایت د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړو د یاد ورکشاپ له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او په راتلونکي کې یې د دا ډول ښوونیزو پروګرامونو جوړولو غوښتنه وکړه.

## لنډ خبرونه

### خوست

په خوست ولایت کې د مدارسو طالب العلمانو او ښوونځیو د زده کوونکو روغتیا ته د پاملرنې په موخه، د ۶۰ تنو مدرسینو او ښوونکو لپاره دوه ورځنی روغتیا ساتنې سیمینار جوړ شو.

### بدخشان

د بدخشان ولایت پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي نصرت الله فیضاني تر څارنې لاندې، د حفظ ، حدیث او عصري علومو د ښوونکو بستونو لپاره له ۴۶ تنو څخه په پوره روڼتیا سره آزموینه واخیستل شوه.

### ننگرهار

از کمک های مردم معارف دوست ولسوالی سرخ رود ولایت ننگرهار، سیستم برق آفتابی در لیسه سلطان پور ولسوالی یاد شده نصب و فعال گردید که مجموع مصارف آن مبلغ ۵۰ هزار افغانی شده است.

### لوګر

د ځایي اوسېدونکو په مالي مرسته د لوګر ولایت بره کې برک ولسوالۍ اړوند رستم خېل لېسې لپاره د ۶۵ زره افغانیو په لګښت د لمریزې برېښنا سیستم فعال شو.

د یوه بل خبر له مخې په یاد ولایت کې د ۱۵۲ بابه ښوونځیو مدیرانو او سرښوونکو ته د وړتیا لوړونې ۵ ورځنی ورکشاپ پیل شو.

### پکتیکا

د پکتیکا ولایت پوهنې ریاست د اداري چارو د کارکوونکو لپاره څلور ورځنی سیمینار، د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معینیت لخوا جوړ شو.

### بلخ

د پوهنې وزارت د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا رئیس محترم مولوي محمد ابراهیم عمري له لوري د بلخ ولایت د ۱۴۰ تنو مسلکي ښوونکو لپاره ۸ ورځنی ښوونیز سیمینار پرانستیل شو.

### پکتیکا

برای شاگردان مکاتب ولسوالی های سر روضه، متا خان و چهار بران ولایت پکتیکا کورس های آموزشی ایجاد شده است.

محترم مولوی عبدالوکیل خالد رئیس معارف آن ولایت راه اندازی چنین کورس ها را برای بلند بردن سطح علمی شاګردان مهم خواند.

### د تودو سیمو د آزماینو پیل

د پوهنې وزارت د لایحې له مخې، د هېواد په تودو سیمو کې د ښوونځیو د څلور نیم میاشتنیو آزموینو لړۍ، د روان کال مرغومې میاشتې په پنځلسمه نېټه پیل شوه.

د یادو ولایتونو له پوهنې ریاستونو څخه په ترلاسه شویو راپورونو کې راغلي، چې د اړوندو ادارو رئیسانو، مسئولینو او د ښوونیزو ادارو د څارنې غړو په مرکز او ولسوالیو کې له همدغو آزموینو څخه لیدنه او څارنه وکړه.

## سږ کال د لوګر د اوسېدونکو لخوا د پوهنې په برخه کې شاوخوا پنځه مېلیونه افغانۍ مرسته شوې

د لوګر ولایت د پوهنې ریاست چارواکي وایې چې د ۱۴۰۳ لمریز کال له پیل څخه تر اوسه پورې پوهنې ریاست سره د پوهنیز نظام د ودې او پرمختیا په موخه د عامو خلکو له خوا څه د پاسه ۵ مېلیونه افغانۍ مرسته شوې ده.

د پوهنې ریاست د مسئولینو د معلوماتو له مخې دغه شمېر مرستې د لوګر ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د ښوونځیو په بیارغونې، د څښاک پاکو اوبو څاګانو کیندلو، د ښوونیز خونديي چاپېریال را منځ ته کولو او نورو اړینو چارو په برخه کې په مصرف رسېدلې دي. د یادو مسئولینو په خبره د دې مرستو له امله د لوګر ولایت زرګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې خونديي او مناسب چاپېریال را منځ ته شوی.

پوهنې وزارت د هېوادوالو په ځانګړې توګه د لوګر ولایت علم پرورو ولس د مادي او معنوي مرستو له امله مننه کوي او د هغوی پوهنیز فعالیتونه ستایي.

## کابل کې د څه باندې ۴ مېلیونه افغانیو په لګښت د ۳ بابه ښوونځیو ودانۍ ترمیم شوې

د کابل ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایې په روان لمریز کال کې د کابل ولایت موسهي او شکردرې ولسوالیو اړوند ۳ بابه ښوونځي بیارغول شوي او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي.

د مسئولینو په وینا، د یادو ښوونځیو د بیارغونې ټول لګښت ۴ مېلیونه ۳۱۲ زره افغانۍ وو، چې د پوهنې وزارت له بودجې څخه ورکړل شوی دی.

د یادو تعلیمي مرکزونو د بیا پرانیستلو په مراسمو کې د پوهنې مسئولینو ترڅنګ، یو شمېر علماءکرامو او د خلکو استازو هم ګډون درلود. ویناوالو د ټولنې په اصلاح او د هېواد په پرمختګ کې د علم او پوهې په ارزښت خبرې وکړې او له والدینو یې وغوښتل چې خپل ماشومان مدارسو او ښوونځیو ته واستوئ.

## د هېواد په ٦ ولایتونو کې سلګونو تنو کارکوونکو لپاره مسلکي ورکشاپونه جوړ شول

پوهنې وزارت له لوري د ښوونیزو بنسټونو د اداري او تدریسي کارکوونکو د مسلکي وړتیاوو لوړولو په موخه، له ۳ څخه تر ۸ ورځو پورې ښوونیز مسلکي ورکشاپونه په لاره واچول شول، چې په دې سیمینارونو کې د بامیان، سرپل، سمنګان، پکتیکا، بدخشان او تخار ولایتونو تر ۵۰۰ تنو زیات ښوونکي، د مسلکي پراختیایي شوراګانو غړي او اداري منسوبین برخه درلوده.

د پوهنې وزارت رهبري د هېواد بچیانو د روزنې په برخه کې د یاد ولایت د ښوونکو، د مسلکي پراختیایي شوراګانو د غړو او اداري کارکوونکو د هڅو د قدردانۍ ترڅنګ له هغوی څخه وغوښتل چې د یادو ورکشاپونو له منځپانګې څخه اعظمي ګټه پورته کړي، ترڅو د امکان تر حده د ښوونې او روزنې سیستم ته لا زیاته وده ورکړي.

## نظارت از وضعیت امتحانات طالب العلمان مدارس دارالهجرت در خیبر پښتونخوا




محترم الحاج مولوی نورالله نعمان اتشه وزارت معارف در خیبر پښتونخوا در حالی که از طرف سایر مسئولین همراهی می شد از جریان امتحانات مشترک مراحل ثانویه و مافوق ثانویه مدارس دارالهجرت بازدید نمود.

موصوف در این دیدار ضمن سخنانی در مورد اهداف تعلیمی وزارت معارف و عرضه خدمات متوازن تعلیمی این وزارت برای اولاد وطن، مسئولین و نگرانان اعلی را به تأمین شفافیت و عدالت و اشتراک کننده گان را به رعایت نظم امتحان توصیه و رهنمایی کرد.

## پکتیا کې د ۴ بابه ښوونځیو لپاره کمپیوټرخونې جوړې شوې

د پکتیا ولایت اریوب ځاځي ولسوالۍ اړوند د بیان خېل، مرکزي اریوب، روکیان او ګلغنډۍ ښوونځیو د کمپیوټر خونو او تخنیکي لوازمو د ترمیم چارې، د یو مېلیون افغانیو په لګښت د ځایي خلکو په همکارۍ ترسره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.



د پکتیا ولایت پوهنې رئیس محترم مولوي عبدالقیوم فاروقي د اریوب ځاځي ولسوالۍ له علم پروره ولس څخه د مننې په ترڅ کې، له زده کوونکو او ښوونکو وغوښتل، چې د اړتیا وړ توکو په ساتنه کې جدي هڅې وکړي.

د پوهنې وزارت رهبري د پکتیا ولایت د خلکو په ځانګړې توګه د پوهنې مینه والو د مادي او معنوي مرستو له امله مننه کوي.

## اخذ امتحان ۷۴ بست اعضای انکشاف مسلکی مدرسین در دو ولایت کشور

برای راه یابی واجدین شرایط به بست‌های خالی امتحان ۷۴ بست اعضای انکشاف مسلکی مدرسین از جمله در ولایت هرات ۴۱ بست و در ولایت فاریاب ۳۳ بست، که قبلاً از طریق اعلان به رقابت آزاد گذاشته شده بود با اشتراک ۱۴۱ تن واجدین شرایط در هردو ولایت با حضور مسئولین ریاست معارف و شماری علماء کرام به گونه شفاف اخذ گردیده و قرار است کامیابان این امتحان در بست‌های انکشاف مسلکی مدرسین معارف ولسوالی‌های ولایت های یاد شده استخدام شوند.

## سفر رئیس عمومی نصاب و انکشاف مسلکی معلمین به ولایت بادغیس

محترم الحاج مولوی اول گل ایوبی رئیس عمومی نصاب و انکشاف مسلکی معلمین وزارت معارف طی یک سفر رسمی عازم ولایت بادغیس شد.

نامبرده در دیداری که با محترم الحاج مولوی محب الله احسان رئیس و مسئولین کلیدی ریاست معارف ولایت بادغیس داشت، اهداف سفر هیئت را ارزیابی امور بخش های انکشاف مسلکی معلمین و نصاب تعلیمی در آن ولایت بیان نموده افزود: وزارت معارف تلاش میکند تا به هدف بهبود بیشتر کاری بخش های انکشاف مسلکی معلمین، تشکیلات آن را در ولایت ها توسعه دهد.

در این دیدار رئیس معارف ولایت یاد شده ضمن خوش آمدید هیئت به آن ولایت، در راستای تطبیق برنامه های آن‌ها وعده همکاری سپرد.

## بامیان ولایت کې د څه باندې ۷ مېلیونه افغانیو په لګښت د یوه ښوونځي ودانۍ جوړه شوه

د بامیان ولایت کهمرد ولسوالۍ اړوند دشت سفید منځنی ښوونځي ودانۍ، چې ۶ درسي ټولګي او دوه اداري خونې لري، د پوهنې په برخه کې د یو همکار بنسټ له لوري د ۷ مېلیونه او ۳۵ زره افغانیو په لګښت په ۵ جریبه ځمکه کې جوړ او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې چې د یاد ولایت والي محترم الحاج مولوي عبدالله سرحدي، پوهنې رئیس محترم قاري عنایت الله سهار، یو شمېر علماءکرامو او قومي مخورو ګډون درلود پرانیستل شو.

د بامیان ولایت والي په خپلو خبرو کې وویل؛ ښوونځي باید د ټولنې د یووالي، پیوستون او د سواد کچې لوړوالي سبب شي او د دې خاورې ماشومان باید د عصري علومو ترڅنګ اسلامي علوم هم په بشپړه توګه زده کړي.

په دې غونډه کې د بامیان ولایت د پوهنې رئیس د ښوونیزو مرکزونو پرانیستل د دې خاورې له ماشومانو سره د پوهنې وزارت ژمنه وبلله او زیاته یې کړه: چارواکي او زده کوونکي دې د دغه ښوونځي ساتنې ته جدي پاملرنه وکړي.

په همدې حال کې ځایي اوسېدونکو په خپله سیمه کې د یاد ښوونځي په جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د پوهنې وزارت د هغو کړنو ستاینه یې وکړه چې د هېواد په لرو پرتو سیمو کې یې هم د دوی ماشومانو ته د زده کړو آسانتیاوې رامنځته کړې دي.

Newspaper
Marif
Weekly

کتنپلاوی: الحاج مولوي شهاب الدين «ثاقب»
مولوي عزيز احمد «ريان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
معراج «زماني»
محمد نسيم «عياذ»
مسئول مدير: سعيد «جلال»
انځور اخيستونكى: محمد ادريس «نوري»
محمد اشرف «رسولي»

ډيزاينر: محمد قسيم «يعقوبي»
تيراژ: ۳۰۰۰
پته: د كابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت

**علاقه مندان معارف و نويسنده گان گرامى!**
شما مى توانيد انتقادات، پيشنهادات و نوشته هاى خود را جهت چاپ به ايميل آدرس ذيل ارسال نماييد.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړيکي شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 293 /2025

# د پوهنې وزارت سرپرست د ولايتونو د پوهنې رئيسانو سره د ۱۴۰۳ ل کال د بودجې په اړه د ويډيو کنفرانس له لارې غونډه تر سره کړه

د پوهنې وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي حبيب الله آغا د ولايتونو له پوهنې رئيسانو سره د وېډيو کنفرانس له لارې په مرکز او ولايتونو کې د ۱۴۰۳ لمريز کال بودجې د تطبيق پر وړاندې په پرمختګونو، ستونزو او ننګونو خبرې وکړې.

دغه وېډيو کنفرانس چې پکې د پوهنې وزارت محترمو معينانو، د ولايتونو پوهنې رئيسانو او يو شمېر کارپوهانو ګډون کړی و، د پوهنې وزارت سرپرست په مشرۍ ترسره شو.

په پيل کې د پوهنې رئيسانو په جلا جلا توګه د خپلو اړوندو څانګو د مالي وضعيت په اړه لنډ معلومات وړاندې کړل. وروسته د پوهنې وزارت محترم سرپرست د خپلو خبرو په ترڅ کې دوی



ته وويل: له خزانې سره داسې چلند وکړئ، لکه څنګه چې يې د يتيمانو له مالونو سره کوئ، بودجه بايد په مناسب ځای کې مصرف شي، زموږ مسئوليت دی، چې د مدارسو او ښوونځيو مالي ستونزې په دقت سره وڅېړو.

د پوهنې وزارت محترم سرپرست له مسئولينو وغوښتل، چې د خپلو ادارو پر وړاندې شته ننګونې له مشرتابه سره شريکې کړئ، تر څو د حل لاره ورته ولټول شي.

په پای کې د وېډيو کنفرانس ګډون والو د پوهنې وزارت د رهبرۍ له هڅو ستاينه وکړه او د وزارت د مشرتابه د ټولو پلانونو، پروګرامونو او لارښوونو پلي کولو کې يې د همکارۍ ژمنه وکړه.

# د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رياست د تېرې اونۍ د کړنو راپور

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رياست رئيس محترم الحاج مولوي جمعه خان سروري او ورسره مل پلاوي، تېره اونۍ د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د څارنې له رئيس محترم مولوي فضل ربي سره وکتل او په يو لړ مهمو موضوعاتو يې بحث او خبرې اترې وکړې.

همدارنګه تېره اونۍ د پوهنې وزارت د مرکزي هستې ټولو کارکونکو ته د ديني درسونو لړۍ دوام درلود او د يادې اونۍ په درشل کې د محترم مولوي بسم الله احسان لخوا ټولو منسوبينو او کارکوونکو ته علمي او اغېزناکه وينا ترسره شوه.

دغه راز نومورې د پوهنې وزارت له ټولو منسوبينو څخه وغوښتل، تر څو خپلو مسئوليتونو او دندو ته په جدي ډول متوجې واوسي او د مراجعينو کارونه پرته له ځنډ څخه په ټاکلي وخت سرته ورسوي.

په ورته مهال له ولايتونو څخه را رسېدلي راپورونه ښيي چې؛ د دعوت او ارشاد رياست د پلان او کړنلارې له مخې د پوهنې ټولو کارکوونکو ته د ديني درسونو لړۍ په عادي ډول روانه وه.

له بلې خوا تېره اونۍ د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د څارنې محترم رئيس په مشرۍ او د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رياست د مسئولينو په ملتيا، د شخصي کورسونو له ګڼ شمېر بنسټ اېښودونکو، مديرانو او استاذانو سره ناسته وشوه، چې پکې په يو شمېر مهمو اصلاحي موضوعاتو باندې خبرې ترسره شوې.

د دعوت او ارشاد رياست مسئولينو د يادو تعليمي مرکزونو مسئولينو ته وويل، چې د پوهنې وزارت له لوري په ټولو تعليمي ادارو کې مبلغين ګمارل شوي، تر څو اړوندو کارکوونکو ته د دعوت او ارشاد ترتيب شوی نصاب تدريس او ترڅنګ يې د لمانځه، سربېره د سيرت صورت اړوند لازمې سپارښتنې وکړي.

همدارنګه هغوی د کورسونو له مسئولينو وغوښتل چې بايد په خپلو ښوونيزو ادارو کې مبلغين وګماري او د دعوت او ارشاد رياست لخوا څخه ترتيب شوی درسي کتاب ټولو منسوبينو ته تدريس کړي. د غونډې ګډون والو په خورا مينه او اخلاص سره ژمنه وکړه چې د دعوت او ارشاد رياست ټولې لارښوونې به ډېر ژر په خپلو تعليمي مرکزونو کې پلې کړي.

# تکمیل ۳ پروژه بازسازی مراکز تعلیمی به هزینه دو میلیون افغانی در ولایت بدخشان



سه پروژه ترمیماتی شامل ساخت دیوار احاطه و نصب دروازه‌ها در لیسه ذکور نوآباد گندم قول، ترمیم و ساخت دیوار احاطه دارالعلوم عالی عبدالله ابن عباس و ترمیم اساسی تعمیر لیسه بی بی اسماء می باشند، در مربوطات ولسوالی کشم ولایت بدخشان به هزینه ۲ میلیون افغانی که از بودجه ریاست معارف آن ولایت پرداخت شده، رسماً افتتاح و به بهره برداری سپرده شدند.

محترم الحاج مولوی نصرت‌الله فیضانی، رئیس معارف ولایت بدخشان، در رابطه به این پروژه ها گفت: "انجام این پروژه ها گامی مهم در راستای بهبود وضعیت تعلیمی و فراهم‌سازی محیط مناسب آموزشی برای دانش‌آموزان بوده و تأکید کرد که ریاست معارف ولایت بدخشان متعهد است تا با استفاده از امکانات موجود، شرایط بهتری را برای تعلیم و تربیه فرزندان ولایت یاد شده فراهم نماید.

گفتنی است که دانش‌آموزان این مراکز تعلیمی پیش از این به دلیل نبود محیط مناسب درسی با مشکلات فراوانی روبرو بوده که با تطبیق و تکمیل این پروژه‌ها مشکلات شان از این ناحیه مرفوع شده و می‌توانند با آغاز سال جدید تعلیمی دروس خود را در محیط مصئون و مناسب آموزشی آغاز کنند.

# په دايکنډي ولايت کې د ۱۰ بابه ښوونځيو بيارغونې چارې بشپړې شوې



د دايکنډي ولايت پوهنې رياست د پلان له مخې، سږ کال د ياد ولايت په مرکز او ۸ ولسواليو کې د ۹،۵ مېليونه افغانيو په لګښت، د مرکز او ۸ ولسواليو د ۱۰ بابه ښوونځيو بيارغونې چارې پای ته ورسېدې.

په يادو پروژو کې د ښوونځيو د ودانيو رنګول، دروازو، کړکيو ترميم او د ښوونځيو شاوخوا ودانيو کانکرېټول شامل دي، چې په تخت، بندر، خدير، کيتي او کجران ولسواليو کې د جلا جلا مراسمو په ترڅ کې پرانيستل شوې.

مسئولينو د دغو ښوونيزو بنسټونو د پرانيستې په مراسمو کې د پوهنې د ګټو او د هېواد په پرمختګ کې د هغوی د رول په اړه د خبرو پر مهال، د پوهنې وزارت د پراختيايي پروګرامونو يادونه وکړه او له خلکو يې وغوښتل چې له دغه وزارت سره په مادي او معنوي لحاظ خپل ملاتړ ته دوام ورکړي.

په پای کې څو تنو علماءکرامو او د خلکو استازو د پوهنيز نظام په لاپياوړتيا کې د همکارۍ ډاډ څرګند کړ.

# د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا رئيس په سرپل ولايت کې د مسلکي وړتياوو لوړونې له ورکشاپ څخه ليدنه وکړه

د پوهنې وزارت د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا رئيس محترم مولوي محمد ابراهيم «عمري» د سرپل ولايت پوهنې رئيس محترم مولوي محمد رحماني په ملتيا د ښوونکو د مسلکي وړتيا لوړولو تر نامه لاندې ۸ ورځني ورکشاپ څخه چې د ښوونکو د تدريسي مهارتونو پياوړتيا په موخه په ياد ولايت کې د يوې ښوونيزې ادارې په مالي مرسته په لار اچول شوی وو ليدنه وکړه.

د دې ليدنې په ترڅ کې مسئولينو له دا ډول مسلکي او مېتوديکي...

۲مخ

د ښوونې او روزنې په برخه کې پانګونه د سوکاله او پرمختللي افغانستان ضمانت کوي